# زموږ سپوږمۍ


لیکنه: دیانانونان
ژباړه: ثریانیلوفر




## د زرغون مشرتابه پیغام

ستورپوهنه ډېر مینوال لري. له ستورپوهنې سره د زده کوونکو مینه شاید له دې وجهې وي چې د شپې آسمان یو شمېر اجزا محسوس او د لیدو وړ دي.د شپې په آسمان کې د نورو په پرتله سپوږمۍ ډېره برجسته او په غیرمسلح سترګو د لیدو وړ ده.سپوږمۍ بېلابېل شکلونه غوره کوي. کله وړېږي کله ستریږي. ډېري ماشومان دغو بدلونونو ته متوجه کیږي او په هکله یې پوښتنې‌کوي. دغه کتاب به د سپوږمۍ په هکله د ماشومانو یو شمېر پوښتنو ته ځواب ووایي یا به تریوه‌بریده نورې پوښتنې ورته پیدا کړي. له ښوونکو، میندو او پلرونو مې هیله ده چې د ماشومانو پوښتنې‌مهمې وګڼي او ماشومانو ته پوښتنې کول ور زده کړي.

بې پوښتنې مه شئ

**احمدولیداباسین**

د زرغون څېړنې او ژباړې مرکزمشر

ZARGHOON
Research & Translation Center

# زموږ سپوږمۍ


لیکنه: دیانانونان
ژباړه: ثریانیلوفر
دژبې ایډیټ: نعیمه غني
علمي ایډیټ: انجنیرعبدالباقي سلطاني



خپرونکی: زرغون خیرنې او ژباړې مرکز



د کتاب ټول حقوق له زرغون خیړنې اوژباړې مرکز سره خوندي دي


لړلیک


- سپوږمۍ څه ده؟ ........ 2
- د څوارلسمې سپوږمۍ ........ 8
- د سپوږمۍ سطحه ........ 10
- آیا په سپوږمۍ کې اوسیدلی شو؟ ........ 12
- نوملیک ........ 16


ډالۍ

ابک او مه مه ته مې چې په مینه یې روزلې یم

# سپوږمۍ څه ده؟

د شپې په آسمان کې تر ټولو ستر شی، زموږ سپوږمۍ ده. سپوږمۍ ګرد او روښانه جسم دی چې مدام تر ځمکه تاوېږي.



د سپوږمۍ په هکله ډېر نه پوهېږو، خو تر پخوا يې ډېره پېژنو. موږ اوس پوهېږو چې سپوږمۍ له درې میلیاردو کلونو ډېر عمر لري.



له ځمکې د سپوږمۍ یو مخ لیدلی شو، خو موږ د سپوږمۍ د بل مخ په اړه هم معلومات لرو. فضايي کمرو د سپوږمۍ له هغه مخ، چې موږ ته نه ښکاري، ډېر تصویرونه اخیستي دي.









سپوږمۍ له ځمکې څخه ډېره لرې ده. که یو موټر 100 کیلومتره پر ساعت سرعت ولري، نو په160 ورځو کې به له ځمکې څخه سپوږمۍ ته ورسیږي.



## د څوارلسمې سپوږمۍ

سپوږمۍ رڼا ده، ځکه چې خپله رڼا د لمر له وړانګو اخلي. کله چې د لمر نور د سپوږمۍ په ټول مخ لګي، نو سپوږمۍ ستره او ګرده ښکاري. دغه حالت ته پوره سپوږمۍ یا بدر او یا د څوارلسمې سپوږمۍ وایي. کله چې د لمر نور پر سپوږمۍ ونه خورېږي، بیا نو سپوږمۍ تیاره ښکاري. دغه حالت ته نوې میاشت وایي.





# د سپوږمۍ سطحه



د سپوږمۍ سطحه تيږو، خاورو او دوړو پوښلې ده. په سپوږمۍ کې پوښتې، غرونه، دښتې او شيلې شته دي.



سپوږمۍ کندې او کپرې لري. په سپوږمۍ کې باد او باران نه کيږي، خو سپوږمۍ کنگل لري.

په سپوږمۍ کې بوټي نشته دي او ژوي هم نه لري.





# په سپوږمۍ کې اوسېدلی شو؟

په سپوږمۍ کې نه شو اوسېدلی، ځکه د ورځې تو دوخه یې تر جوش اوبو ډېره ده. د شپې تودوخه یې بیا ترکنګل سړه ده. نو د نامناسبه تودوخې له امله په سپوږمۍ کې نه شو اوسېدلی.



موږ د ساه اخیستو لپاره هوا ته اړتیا لرو. په سپوږمۍ کې هوا نشته ده. نو د اوس لپاره په سپوږمۍ کې نه شو اوسېدلی، خو د لیدو لپاره یې ورتللی شو.



# نوملیک




| | |
|---|---|
| هوا | 14 |
| ځمکه | 2, 4, 6 |
| کنګل | 11 |
| شپه | 2, 12 |
| آسمان | 2 |
| لمر | 8 |